Vertaling Nederlands-Pashtoe.
Dit is de vertaling Pashtoe van "Keuzewijzer voor Okan leerlingen" en bevat identiek dezelfde informatie als de Nederlandse tekst. Deze vertaling mag enkel verspreid worden met de originele brontekst "Keuzewijzer voor Okan leerlingen".

# KEUZEWIJZER
# VOOR
# OKAN LEERLINGEN VAN 18

IN-Gent vzw in samenwerking met De Stap - Leerwinkel Oost-Vlaanderen

# د انتخاب لارښود
# د اوکان زده کوونکو لپاره د ۱۸ کلنو څخه

د این-ګنټ اداره vzw د ستپ -لیروینکل شرقي- فلاندرن په همکاری

# ته ۱۸ کلن يې؟

بیا تاسو نور مکلف نه یاست چې ښوونځي ته لاړ شئ*. دا په دې مانا ده چې تاسو نور مکلف نه یاستئ چې ښوونځي ته لاړ شئ.
*د اجباری زدکړو په هکله اضافي مالومات ددڅ پاڼي له طریقه لاسته راوړئ: د جبری زده کړو په اړه: https://www.vlaanderen.be/leerplicht-en-schoolplicht **(دا باید د پاڼی په لاندینۍ برخه کې وی)**

تاسو اجازه لرئ چې متوسطه ښوونځی مخته بوځي او تر هغه مهال چې ۲۵ کلن کیږئ کولای شئ چې خپل تعلیمي کال ختم کړئ.

تاسو اجازه لرئ چې د **بالغو زدکونکو د زدکړې پروګرام** مخته بوځئ. د بالغینو د کورسونو او زدکړې د تعقیبولو په اساس تاسو کولای شي چې یو مسلک زده کړئ، خپل ډیپلوم ترلاسه کړئ او یا د شوق په اساس زدکړې وکړئ.

ډیر امکانات شتون لري.
تاسو کولای شئ چې ډیري کورسونه او زدکړې د یو بل سره ترکیب کړې.

په دې مالوماتي پاڼي کې به تاسو دا مالومات تر لاسه کړئ چې د یو کورس او زدکړې محتوا څه دی، مصرف يې څومره دی، دزدکړې موده څمره ده، وروسته له ختم څخه يې تاسو څه کولای شئ، کوم ډیپلوم تاسو لاسته راوړئ. دلته به تاسو عمومي مالومات وموميئ.

آیا تاسو اضافي مالوماتو ته اړتیا لرئ؟ که چیرې داسې وي بیا دا پوښتنه وګورئ " څوک زما سره مرسته کولای شي" په ۴ صفحې کې.

تاسو کولای شئ چې دا مالوماتي پاڼه زموږ په ویب پاڼې www. کې وموندئ. ددې لپاره چې له تاسو سره مرسته شوې وي دا پاڼه په ځینو ژبو ژباړل شوي ده. تاسو کولای شئ چې د دې آنلاین نسخې په مرسته، وروسته له یو کلیک څخه اړین ویب پاڼې ته د مالومات د لاسته راوړلو لپاره لاس رسي پیدا کړئ.

بریالي ووسئ!

Vertaling Nederlands-Pashtoe.
Dit is de vertaling Pashtoe van “Keuzewijzer voor Okan leerlingen” en bevat identiek dezelfde informatie als de Nederlandse tekst. Deze vertaling mag enkel verspreid worden met de originele brontekst “Keuzewijzer voor Okan leerlingen”.

## فهرست


1. کومې پوښتنې مهمې دي؟ 4
2. په ټولنې کې د ادغام پروګرام څه شی دی؟ 5
3. پارکور څه شی دی؟ 6
4. مسلکي زده کړې او په خپل مسلک کې نورې زده کړې څه دي؟ 7
5. د هالنډي ژبې کوم کورسونه شتون لري؟ 8
6. زه د خپل شخصی ودې لپاره څه شی کولای شم تعقیب کړم؟ 9
7. ګټور مالومات 10


**د زدکړې یو شمېر فرصتونه**


8. د ثانوي زده کړو په برخه کې د بالغینو ثانوي زده کړو له لارې دیپلوم ( CVO ) 11
9. د ثانوی زده کړو ډیپلوم د ثانوي زدکړو د کمیسیون له لارې. 12
10. لوړې زده کړې: لوړې زدکړې 13
11. لوړې زده کړې: د 5HBO نرسری 14
12. لوړې زده کړې: لیسانس 15

Vertaling Nederlands-Pashtoe.
Dit is de vertaling Pashtoe van “Keuzewijzer voor Okan leerlingen” en bevat identiek dezelfde informatie als de Nederlandse tekst. Deze vertaling mag enkel verspreid worden met de originele brontekst “Keuzewijzer voor Okan leerlingen”.

## ۱ . کومې پوښتنې مهمې دي؟

| | |
|---|---|
| زه باید څه **انتخاب کړم؟** | داسې **وړیا وسیلې** شتون لرې چې له تاسو سره د **زدکړې یا** د **مسلک** په انتخاب کې مرسته کوي (مالومات په ۱۰ صفحې کې وګورئ)<br>آیا تاسو کوم مسلک او /یا زدکړه انتخاب کړی ده؟ که داسې نه وي بیا یو ښوونځی یا د روزنې مرکز انتخاب کړئ.<br>په دې مالوماتي پاڼې کې به تاسو د **بالغینو د زدکړو** د پروګرام د اسانتیاوو په اړه مالومات ترلاسه کړئ.<br>تاسو کولای شئ چې ډیری کورسونه او زدکړې د یو بل سره ترکیب کړې. |
| د زدکړې رشتې /کورس **محتوا** څه ده؟ | تاسو به د هغه څه په اړه مالومات ترلاسه کړئ چې تاسو ته ښودل کیږي او دا چې درسونه څنګه تنظیم شوي دي. ځینې مسلکي رشتې شتون لرې چې ډیر په **عملي** برخې باندې ټینګار لرې یا په **نظري** برخې باندې ټینګار لرې. تاسو هم کولای شئ چې کله نا کله د شپې لخوا ټولګی تعقیب کړئ..<br>لارښودنه: د نورو مالوماتو لپاره د ښوونځی ویب پاڼې ته لاړ شئ، د مالومات لپاره په عمومي مالوماتي ورځو راشئ یا د مرکې لپاره وخت وټاکی. د ښوونځی یا د روزنیز مرکز سره د مرکې په ترڅ کې تاسو کولای شئ ټولو مالومات لاسته راوړئ. |
| دا به څومره **وخت** ونیسي؟ | دا ستاسو په شخصی پروګرام پورې تړاو لري: چې څو مضمونونه تعقیبوی، دا چې تاسو مکمله ورځ یا د شپې لخوا زدکړه کوئ ...<br>په لوړو زده کړو کې، موږ د کریډیټ په اړه خبرې کوو: په ماډل پروګرام کې ۶۰ کریډیټ ۱ تعلیمي کال دی.<br>په مختلفو روزنیزو مرکزونو او ښوونځیو کې د زدکړې رشتې د یو بل سره پرتله کړئ. |
| په روزنې کې په څه شی تمرکز کیږي؟<br>تاسو وروسته له هغې څه کولای شئ؟ | یوه روزنه کیدای شی د نورو **زده کړو** لپاره یا د **کار** لپاره تاسو چمتو کړي. |
| آیا دا وړیا ده که زه باید پیسې ورکړم؟<br>لګښت یې څمره **دی؟** | اکثراً تاسو د نوم لیکنې فیس ورکوئ، د زدکړې مواد، کاري توکو، د کار جامې او د کتابونو لګښت ورکوئ. همدارنګه وړیا کورسونه او پروګرامونه هم شتون لري لکه د پارکور په شان په این - ګنټ vzw (۶ صفحه)، د VDAB (۷ صفحه) او CBE (پاڼې ۸-۹).<br>لارښوونه:<br>- پوښتنه وکړه چې چاته تخفیف ورکوي.<br>- د ودې د کڅوړې په اړه پوښتنې وکړه. دا د ۲۵ کلنو څخه ټیټ عمره ځوانانو سره مالي مرسته ده. پوښتنه وکړه چې آیا تاسو کولای شئ چې د ودې کڅوړه وساتې یا یې له لاسه ورکوئ. groeipakket.be |
| د شاملیدلو شرایط څه دي؟ | دا دي: **عمر، د استوګنې اسناد، د ژبې سویه، ډیپلوم شرایط.** اړتیاوې. |
| زه کوم **ډیپلوم** ترلاسه کوم؟ | تاسو به یوه تصدیق پاڼه ترلاسه کړئ، یو (قسمي) تصدیق پاڼه، شهادتنامه یا ډیپلوم. |
| آیا **زما د هیواد** تجربې او زده کړې شمیرل کیږي؟ | ستاسو تجربې او زدکړې یو مهم رول لوبوي. تاسو څومره وخت ښوونځي ته تللې یاستئ؟ تا څه زده کړې دي؟ آیا تاسو ستاژ کړی یا د کار تجربه لرئ؟ آیا تاسو په خپل هېواد کې د ثانوي زده کړو ډیپلوم/ شهادتنامه ترلاسه کړی ده؟ خپل د هېواد یا د بلجیم شهادتنامې او ډیپلومونه چمتو وساتئ.<br>لارښوونه:<br>- ځینې وختونه تاسو کولای شئ چې د خپل هېواد **یو ډیپلوم** په **رسمي توګه پرتله** کړئ. تاسو به بیا یو سند ترلاسه کړئ چې ستاسو ډیپلوم د فلامس د ډیپلوم سره پرتله کوي. په دې ډول به ستاسو کارفرما په دې پو شي چې تاسو څه ډول ډیپلوم لرئ. تاسو کولای شئ چې ددې کار لپاره د ناریک فلاندرن څخه درخواست وکړئ https://www.naricvlaanderen.be/erkenning-aanvragen-bij-naric-of-andere-instantie#onderwijsinstelling. آیا تاسو په ګنټ کې اوسیږئ؟ **این-ګنټ** vzw تاسو سره مرسته کولی شی. |
| زه چرته زدکړه کولای شم؟ زه څنګه کولای شم چې یو **ډیپلوم** ترلاسه کړم؟ | کورسونه دی چې موخه یې د لا زیاتو زده کړو **په موخه ترسره کیږی.** په ۱۱ - ۱۵ او ۵-۱۰ صفحو کې به تاسو په زړه پورې مالومات ومومئ.<br>ثانوي زده کړې هم د لوړو زده کړو لپاره تاسو چمتو کوي. تاسو بیا یو روان تګ لاره تعقیب وئ.<br>تاسو هغه مهال خپل هالندی ژبې ته وده ورکوئ چې د **2NT کورس** تعقیب کړئ (۸ صفحه). |
| زه څنګه کولای شم دایمی **دنده** پیدا کړم؟ | د هالندی ژبې ښه پوهه ( ۸ صفحه) او د مسلکي زده کړې پوهه ( ۷ صفحه) د دایمی دندې د موندلو چانس د خپل ځان لپاره زیات کړئ. په ټولنې کې د ادغام پروګرام (۵ صفحه) یا **پارکور** (۶ صفحه) کیدای شي ستاسو لپاره په زړه پوری وي. په **۹-۱۰ صفحو کی به تاسو په زړه پوری معلومات ومومئ.**<br>آیا تاسو هم غواړئ چې ډیپلوم ترلاسه کړئ؟ ۱۱ - ۱۵ صفحې ولولئ. |
| څوک زما سره **مرسته** کولای شي؟ | ستاسو د **اوکان تعقیبي روزونکی** به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو تاسو انتخاب وکړی.<br>تاسو د مسلکي زدکړو او کورسونو په اړه د پو ښتونو د حل لپاره کولای شئ چې د ستپ-لیرونیکل شرقی فلاندرن ت مراجعه وکړئ info@destapgent.be شمېره یې دخ ۰۹۲۳۳۷۵۱۵ او پته یې په کتابتون کې پت دویم منزل کې ده De Krook, Miriam Makebaplein 1, 9000 GENT. تاسو به هم لارښودنه ترلاسه کړئ.<br>د ادغام پروګرام لپاره، د هالنډ کورس، **پارکور**، د بالغاینو د روزنې او د ډیپلوم په رسمیت پیژندلو په لپاره، تاسو کولای شئ چې **این-ګنټ** vzw ته مراجعه وکړئ، info@in-gent.be شمېره ۰۹۲۶۵۷۸۴۰<br>Kongostraat 42, 9000 Gent. تاسو به هم لارښودنه ترلاسه کړئ.<br>آیا تاسو په ګنټ کې ژوند نه کوئ؟ د ادغام ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ https://www.integratie-inburgering.be/nl/landingspagina-inburgering |

Vertaling Nederlands-Pashtoe.
Dit is de vertaling Pashtoe van “Keuzewijzer voor Okan leerlingen” en bevat identiek dezelfde informatie als de Nederlandse tekst. Deze vertaling mag enkel verspreid worden met de originele brontekst “Keuzewijzer voor Okan leerlingen”.

## ۲. د ادغام پروګرام څه شی دی؟

| | |
|---|---|
| محتوا | - تاسو د **ادغام او په ټولني کې د بلدېدلو د اداري** لخوا پروګرام تعقیبوئ. (این- ګنټ په ګنټ کې، اطلس په انتورپن کې و فلامس اختنتسخپ په ټولو نورو فلامس ښارونو او ښاروالیو کې).<br><br>- د پیل کولو لپاره د ادغام یو **ترون لاسلیک** کوئ. په دې ترون کې مونږ هڅه کوو چې یو داسې پروګرام جوړ کړو چې ستاسو شرایطو سره مناسب وي.<br><br>- د ادغام یو پروګرام د څو برخو څخه جوړ دی او د ۲۰۲۲/۱/۱ نېټې څخه به ۴ برخې ولري.<br><br>د **هالنډي ژبې** کورس (2NT2 - niveau A1 en A),<br>په ټولنیز چارې کې بلدېدل (د قانون درس) (MO) ستاسو په مورنۍ ژبې کې یا په بلې ژبې کې چې تاسو پې پوهېږئ.<br>شخصی لاربنودنه (د پروګرام لاربنود به تاسو سره د پروګرام په جریان کې ستاسو د پوښتنو په اړه مرسته وکړی او تاسو به VDAB ته معرفي کړی. تاسو کولای شئ چې زده کړې ته ادامه ورکړئ یا سر له نوی څخه زدکړه پیل کړئ.)<br>تاسو داسې یو **فعالیت** غوره کوئ چې په هغه کې د نورو کسانو سره معرفي کېږئ ( ټولنیزې شبکې) یا په فعاله توګه په ټولنې کې برخه اخلئ ( ګډون): تاسو یو تفریحي سرګرمي انتخاب کوئ (سپورت، تفریح)، دواطلبانه کار، د معرفی کېدلو ستاژ، تاسو کولای شئ چې د یو ټاکل شوي ملګری سره یوځای کار وکړئ ( د تفریح مسایلو په برخې کې، د کار په برخې کې) ، ...<br>- تاسو کولای شئ چې د پروګرام ټولې برخې په یو وخت کې تعقیب کړئ. کیدای شي چې تاسو د معافیت د آزموینې څخه وروسته د یوې برخې څخه معاف شئ ( MO یا 2NT ) یا د دې لپاره چې تاسو بشپړ وخت کار کوئ یا زدکړه کوئ (شبکه او ګډون).<br>-درسونه د ورځې په جریان کې دی، د شپې لخوا یا د شنبې په ورځ. |
| موده | - ستاسو په شخصي پروګرام پورې اړه لري.<br>تاسو به د خپل ترون په پیل کې موخې ته در رسېدلو موده تر لاسه کړئ. دا موده ستاسو د هالنډی کورس په موده پورې اړه لری. |
| په دې هکله | - تاسو به په فلاندرز کې د ټولنې او په ښار یا په فلاندرز کې د خدماتو په اړه مالومات ترلاسه کړئ. په دې ډول به تاسو په بلجیم کې خپل ځان ژر تر ژره لکه په خپل کور کې احساس کړئ.<br>- تاسو دې ته چمتو کېږئ ترڅو چې په ټولنه کې فعاله برخه واخلئ.<br>- وروسته له دې پروګرام څخه تاسو کولای شئ چې هالنډی ژبه زده کړئ، مسلکی زده کړې تعقیب کړئ، تحصیل وکړئ (د اضافي مالوماتو لپاره دا مالوماتي پاڼه ولولئ). |
| لګښت | - تر ۳۱ د دسمبر ۲۰۲۱ پورې، د ادغام پروګرام وړیا دی.<br>- د ۲۰۲۲ څخه باید تاسو د پروګرام د تعقیب کولو لپاره **پیسې ورکړئ** (۳۶۰ یورو د بشپړه پروګرام لپاره. د دې موضوع په اړه ټول ګټور معلومات په ویب پاڼه کې موندلای شئ). |
| د شاملیدلو شرایط | - ۱۸ کالن ووسي<br>- د بهرني اتباعو په اداري کې ثبت ووسي - یا د احوالو د ثبت په اداري کې ثبت ووسي ( د ۲۰۲۲ کال څخه )<br>- د هغه کسانو لپاره چې غواړي په ټولنې کې بلد شي<br>- احتمالاً تاسو **مکلف** یاستئ ترڅو پروګرام تعقیب کړئ.  تاسو به یو **لیک** ترلاسه کړئ. کله چې تاسو د ادغام په اړه لیک ترلاسه کړه تل ځواب ورکړی. مونږ به په ګډه امکاناتو وڅېړو. |
| ډیپلوم | تاسو به د **ادغام تصدیق** ترلاسه کړئ. د دې لپاره باید تاسو په ټولو هغو برخو کې بریالي شئ کوم چې ستاسو په ترون کې ذکر شوي دي.<br>د ادغام تصدیق په **ټولنې کې د بلدېدلو** ثبوت دي (د بلجیم د تابعیت د ترلاسه کولو لپاره اړین دی). |
| اضافی مالومات | د تنکي ځوانانو لپاره یو ځانګړی پروګرام شتون لري: پارکور ( هغه مالومات چې په ۶ صفحې کې ذکر شوي دي).<br>د ادغام په اړه نور مالومات:<br><br>ویډیوګاني د شاهدی سره: https://www.youtube.com/watch?v=8B-7MdFodbQ<br><br>ادغام : https://www.integratie-inburgering.be/nl/landingspagina-inburgering<br><br>ادغام په ګنټ کې (د بیلابیلو ژبو د ودیو سره) : https://www.in-gent.be/voor-jou/inburgeren<br><br>**این-ګنټ** vzw د ګنټ د اوسېدونکو سره هم مرسته کوي:<br>- د هالنډ د کورس لپاره نوم لیکنه ( 2NT )، (حتی که تاسو په ګنټ کې ژوند هم نه کوئ، تاسو کولای شئ چې په ګنټ کې کورس تعقیب کړئ) .<br>- د ټاکل شویو معیارونو له مخې د یو تی سی (UTC) لپاره سکالرشیپونه،<br>- د هالنډی ژبې تمرین کول،<br>- مدنی آزموینه (د خپل هالنډی ژبې د پوهې تصدیق ترلاسه کړئ )،<br>- د ډیپلوم په رسمیت پېژندل،<br>- د هغو ماشومانو لپاره چې نوی بلجیم ته راغلی یو ښوونځی پیدا کړئ،<br>- د کورس په پیل کې د ماشومانو لپاره ورکتون موندل،<br>- لوړو زده کړو ته لاربنودنه،<br>- ناستې او تفریح... |
| مرسته | آیا تاسو په ګنټ کې اوسېږئ؟ این-ګنټ vzw سره اړیکې ونیسئ https://www.in-gent.be/, info@in-gent.be ۰۹۲۶۵۷۸۴۰<br>Kongostraat 42, 9000 Gent<br><br>- آیا تاسو په فلانډرز کې په بل ځای کې اوسېږئ؟ د ادغام ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ |

Vertaling Nederlands-Pashtoe.
Dit is de vertaling Pashtoe van “Keuzewijzer voor Okan leerlingen” en bevat identiek dezelfde informatie als de Nederlandse tekst. Deze vertaling mag enkel verspreid worden met de originele brontekst “Keuzewijzer voor Okan leerlingen”.

## ۳. پارکور څه شی دی

| | |
|---|---|
| محتوا<br> | - تاسو د تنکی ځوانانو لپاره په ټولنیې کې د بلدېدلو کورس (MO) تعقیبوئ. تاسو به د بلجیم او فلاندرن په هکله ډیر څه زده کړئ. تاسو د سیل لپاره بېلابیلو ځاینو ته لاړ شئ او نوی ملګرو سره به آشنا شئ.<br><br>- د پروګرام لاربنود به ستاسو پوښتنو ته ځواب درکړي.<br>شخصی لاربنودنه وروسته د کورس له ختم څخه نه ختمېږي او تاسو به د خپل لاربنود سره اړیکې وساتئ!<br><br>- تاسو کولای شئ چې د " پارکور" له طریقه ادغام پروګرام ته ننوځئ ( په ۵ صفحې کې د ادغام پروګرام په اړه مالومات وګورئ) . |
| موده | -۲ اونئ د رخصتئ په دوره کې (د پاک اختر (ایستر) یا د اوړی رخصتي) |
| په دې هکله | - د نورو ځوانانو سره یو ځای به تاسو د **ټولنې** او مختلفو **خدماتو** په اړه معلومات ترلاسه کړئ. دا به تاسو سره ستاسو په ژوند کې په بلجیم کې مرسته وکړي. |
| لګښت | - **وړیا** |
| د شاملېدلو شرایط | - تاسو د ۱۷-۱۹ کلونو تر منځ عمر لرئ او تاسو د اروپایی اتحادیې څخه بهر یو هیواد څخه راغلی یاست.<br><br>- آیا تاسو په بلجیم کې د پناه غوښتنه کړې او تاسو د ځواب په تمه یاستئ؟ بیا به ستاسو نوم د انتظار په لیست کې ثبت شي. ستاسو اوسېدل په بلجیم کې لا تر اوسه باوري نه دی. تاسو تر اوسه اجازه نه لرئ چې د ادغام پروګرام تعقیب کړئ، مګر تاسو کولای شئ د پارکور تعقیب کړئ. |
| ډیپلوم | تاسو ترلاسه کوئ:<br>- په **ټولنې کې د بلدېدلو** تصدیق پاڼه. په دې توګه ستاسو د ادغام د پروګرام د یوې برخې چارې تنظیم کیږي.<br>که چېرې د ستاسو د هالنډي ژبې سطح **2A** ته هم ورسیږئ، بیا به تاسو ته د ادغام تصدیق درکړل شي.<br>د ادغام تصدیق د ۱۸ کلنئ څخه ممکن دی. |
| اضافی مالومات | **پارکور**<br>https://www.in-gent.be/parkoer<br>فلم 8https://www.youtube.com/watch?v=xSd1qGfsCR |
| مرسته | پارکور<br>parkoer@in-gent.be<br>۰۴۸۳۴۱۳۰۶۲<br>IN - Gent vzw , Kongostraat 42 , 9000 Ghent |

Vertaling Nederlands-Pashtoe.
Dit is de vertaling Pashtoe van “Keuzewijzer voor Okan leerlingen” en bevat identiek dezelfde informatie als de Nederlandse tekst. Deze vertaling mag enkel verspreid worden met de originele brontekst “Keuzewijzer voor Okan leerlingen”.

## ۴. مسلکي زده کړې او په خپل مسلک کې نورې زده کړې څه دي؟

| | |
|---|---|
| محتوا | - تاسو به یو **مسلک** یا تخصص خپل کړئ او بیا به ژر تر ژره **کار وکړئ**.<br>- تاسو یو مسلکي زدکړه سر ته رسوئ:<br>**- د بنسټیزو زده کړو مرکز ( CBE )**<br>**CVO-** ( د بالغینو د زده کړې مرکز)،<br>**VDAB -** د کار موندونکو لپاره (د فلامس د کار لټولو او مسلکي زدکړو اداره)،<br>**- سینټرا**، ...<br><br>- تاسو د ورځې په اوږدو کې او/ یا شپې لخوا او/یا د لرې زده کړې له لارې زدکړه کوئ.<br>(آیا تاسو د یونیفورم لرونکي مسلکونو سره علاقه لرئ: اطفائیه، پولیس، فوج، هوایی زواک؟ بیا به تاسو په مالوماتي پاڼې کې مالومات ترلاسه کړئ "د هوښیارۍ ګام " په مالوماتي پاڼي کې https://www.destapgent.be/materialen/brochure_de-wijze-stap.php |
| موده | روزنه کیدای شی د څو میاشتو څخه تر څو کلونو پورې وخت ونیسي. |
| په دې هکله | - د زده کړې څخه وروسته تاسو د **دایمي دندې** د موندلو امکان زیات کیږي.<br>دا چې څومره ژر تاسو ته کار پیدا کیږي، په دې اړه لري چې په کوم سکتور کې او (ستونزمن) څه ډول مسلک کې کار لټوئ. ستاسو د مالومات لپاره: **ستونزمن مسلکونه** هغه دندې دي چې په هغې کې د کار څښتن لپاره ګرانه ده چې مناسبه نوماندان د استخدام لپاره پیدا کړي. |
| لګښت | - د VDAB ټول کورسونه د کار غوښتونکو لپاره وړیا دي.<br>تاسو کولای شئ د لوړو زده کړو یو پروګرام هم تعقیب کړئ (لکه نرسنګ (۱۴ صفحه وګورئ)) د VDAB له طریقه تعقیب کړئ. که تاسو د VDAB لخوا یو تصویب شوی کورس تعقیب کړئ، بیا به لګښت یې د VDAB لخوا ورکړل شي.<br><br>- په **CVO** کې تاسو کولای شئ **تخفیف** ترلاسه کړئ، د مثال په توګه که چیرې ستاسو عاید کچه ټیټه وي.<br><br>- په **سینټرا** کښې، هر کورس یو شان قیمت نه لرې. تاسو د **تخفیف** غوښتنه **نه** شئ کولای. |
| د شاملیدلو شرایط | د استوګنې اسناد<br><br>- په **VDAB** کې تاسو باید ۱۸ کلن واوسئ او د هالنډي ژبې یوه ابتدائي سویه ولرئ تر څو چې وشئ کولای چې زده کړې پرې وکړئ. تاسو د **کار غوښتونکی** په توګه ثبت کړئ.<br><br>- که چیرې تاسو ثانو زدکړې بشپړه کړي وي، بیا تایو کولای شئ چې په **CVO** کې د ۱۶ کلنۍ څخه یا د ۱۵ کلنۍ څخه مسلکي زده کړو پیل کړئ.<br>دا ب هدشپې لخوا وي... ځکه چې تاسو اوس مکلف یاستئ چې خپل ثانوي ښوونځی ته لاړ شئ (تاسو مجبور یاستئ زدکړه وکړئ). تاسو د ۱۸ کلنۍ څخه نور د زدکړو او د ورځې لخوا د ښوونځي تللو مکلفیت نه لرئ. تاسو باید مخکې له مخکې په هالنډي ژبې خبرې وکړئ او ښه پوه شئ.<br><br>- په **سینټرا** کې تاسو کولای شئ د ې د ۱۸ کلنۍ څخه پیل کړئ. د ځینو پروګرامونو لپاره تاسو باید د ثانوي زده کړو ډیپلوم ولرئ یا د شاملېدلو په آزموینې کې باید کامیابه شئ یا د EVC/ EVK په کړنلارې کې کلمیاب شئ. |
| ډیپلوم | ته یې ترلاسه کوی<br>- یو تصدیق، یو ( قسمي) تصدیق، یا ډیپلوم |
| اضافی مالومات | د VDAB د مسلکي زدکړو په څنګ کې تاسو دا هم زد کوئ:<br>- هالنډي ژبه (یو مسلک ته چمتووالی)<br>- زه څنګه یو مسلک انتخاب کړم،<br>- زه څنګه کار پیدا کړم،<br>تاسو کولای شئ چې د OKOT د VDAB پروګرام له طریقه د ثانوي زده کړو یا لوړو زده کړو (عالی مسلکي زدکړې یا مسلکی لیسانس) ډیپلوم تر لاسه کړئ یا د se-n-se (ثانوی وروسته له ثانوي څخه) تصدیق یا سرتیفیکیټ لاسته راوړئ. www.vdab.be/opleidingenوګورئ<br>د لټون په برخې کې "OKOT" ولیکئ.<br><br>VDAB : https://www.vdab.be/anderstalig<br>https://www.vdab.be/opleidingen<br><br><br>VDAB په انګلیسی : https://www.vdab.be/english<br><br><br>CVO : https://www.onderwijs.vlaanderen.be/nl/een-beroep-een-taal-of-ict-vaardigheden-aanleren |

| | |
|---|---|
| | سینترا مرکزی فلاندر : https://www.syntra-mvl.be/<br><br>عمومی:<br>مالوماتي پاڼه "د هوښیاری ګام " https://www.destapgent.be/materialen/brochure_de-wijze-stap.php |
| مرسته | - که تاسو د **ادغام پروګرام** یا **پارکور**، تعقیب کوئ، بیا به **این - ګنټ vzw** له تاسو سره مرسته وکړي (په ۵ او ۶ صفحو کې مالومات وګورئ).<br>- د ستپ - لېروینکل فلاندرن شرقي <u>www.destapgent.be</u><br>-**VDAB , CVO ,** Syntra |

Vertaling Nederlands-Pashtoe.
Dit is de vertaling Pashtoe van “Keuzewijzer voor Okan leerlingen” en bevat identiek dezelfde informatie als de Nederlandse tekst. Deze vertaling mag enkel verspreid worden met de originele brontekst “Keuzewijzer voor Okan leerlingen”.

### ۵. د هالنډي ژبې کوم کورسونه شتون لري؟

| | |
|---|---|
| محتوا | - هالنډي ژبه ستاسو مورنۍ ژبه نه ده بلکې ستاسو دویمه ژبه ده. له همدې امله موږ د ژبې کورس په اړه خبرې کوو **2NT** (هالنډي د غیر هالنډي ژبو لپاره).<br><br>- تاسو هالنډي په پړاونو زده کوئ. ځینې سویې شتون لرې، لکه د الفبا زده کړه ( لاتین لیک )، ( A1 module 1 . 1 )، ( A2 module 1 . 2 )، ( 1B د 4 مادوله څخه جوړ دی )، ( B2 module 3 . 2 )، ( C1 module 4 . 2 )، C 2 . ,<br><br>- دلته بېلابېل ښوونځی/ روزنیزي اداري شتون لري چې کورسونه لکه CVO ، CBE ، د پوهنتون UCT ، VDAB تنظیموي.<br><br>- درسونه د ورځی په جریان کې دي، د شپې لخوا، کله نا کله د اوونۍ په پای کی، د ورځې ۳-۴ ساعته.<br><br>-**IN-Gent** vzw تاسو سره مرسته کوی ترڅو مناسبه کورس پیدا کړئ. تاسو د **منطق ازموینه** او شاید د هالنډي **داخلېدلو آزموینه** سر ته رسوئ.<br>مونږ هم تاسو ته د کورس لپاره نوم لیکنه کوو یا تاسو ښوونځی ته معرفي کوو. |
| موده | - د کورسونو مودې کیدای شی توپیر ولري. یو کورس چې په اونی کې څلور یا پنځه ځله وي د یو کورس څخه چې یو ځل تدریس کیږی چټک دی.<br>- یو **1A** کورس د UTC له طریقه ۱ میاشت دوام کوي، CVO له طریقه ۳ میاشتي دوام کوي او د CBE له طریقه ۱ کال دوام کوي. که چېری لازم وي چې تاسو لومړی **الفبا** زده کوئ، بیا به دوه نیم کاله وخت ونیسي ترڅو چې تاسو (1A) سویې ته ورسیږئ. |
| په دې هکله | - تاسو هالنډی د خپل **ورځني ژوند** لپاره زده کوی.<br>ستاسو د مالوماتو لپاره: که چېری تاسو د VDAB له طریقه د هالنډي کورس تقیب کړئ، بیا به تاسو هغه هالنډي زدکړئ کوم چې د کار د سر ته رسولو لپاره لازم ده. ددې لپاره چې وشئ کولای پیل کړئ، لازمه ده چې ابتدائي هالنډي مو زده وي (د مالومات لپاره مسلکي زدکړي او نوری زدکړی د VDAB له طریقه په ۷) صفحې کې وګورئ. |
| لګښت | - د لګښت بیه په هر ښوونځي او په هر کورس کې د یو بل سره توپیر لري.<br>- د سکالرشیپه درلودلو تاسو کولای شئ چې د UCT له طریقه په ارزانه توګه نوم لیکنه وکړئ (د پوهنتون د ژبې د تدریس مرکز).<br>د کارکونکی څخه پوښتنه وکړئ ي آیا ممکنه ده چې تاسو په ارزانه توګه نوم لیکنه وکړئ. |
| د شاملیدلو شرایط | - تاسو کولای شئ چې د ۱۶ کلنۍ څخه د 2NT کورس تعقیب کړئ. تاسو کولای شئ چې د خپل ښوونځی په څنګ کې د 2NT درسونه هم تعقیب کړئ.<br>د استوګني اسناد<br>آیا تاسو قانوني استوګنه نه لرئ؟ د وخوایز ګنټ له طریقه د هالنډی ژبې د زده کړې امکانات وګورئ:http://wegwijsingent.be/taal |
| دیپلوم | تاسو ته به د هر ماډل یا مضمون لپاره یو (قسمی) تصدیق درکړل شي. |
| اضافی مالومات | د عمومي کتنې کچې:<br>https://www.in-gent.be/sites/default/files/overzicht%20 %20NT%2-<br>20%ERK%20new غړ.pdf<br><br>د این-ګنټ vzw څخه مالومات:<br>https://www.in-gent.be/voor-jou/nederlands/wil-je-nederlands-leren<br><br>تاسو کولای شئ چې په د خپل اوزګارتیا وخت کې هالنډي **تمرین/زدکړه** وکړئ -https://www.in-gent.be/voor-jou/nederlands/oefenen:<br>- **Pennenvrienden** ( د یو هالندی ژبې کس سره د بریښنالیک له طریقه اړیکي,)،<br>-انلاین محاوره *(تاسو د یو هالنډی ژبې لاربنود له طریقه په یو انلاین ګروپ کې د هالنډی ژبې تمرین کوئ).*<br>- په کور کې د هالنډی ژبې تمرین کول ( د اپلیکیشنونو او ویب پانو په هکله هر ډول لاربنووني چیرته چې تاسو کولای شئ هالنډي تمرین وکړئ)<br>- اوپن-بار، کافی **کلتس(** د خبرو دلې چیرته چې تاسو هالندی تمرین کولای شئ). اضافي مالومات په ویب پانه کې<br>https://in-gent.be/voor-jou/ontmoeting-en-vrije-tijdhttps://in-gent.be/voor-jou/ontmoeting-en-vrije-tijd )<br>- د ګنټ وګرییو ځای جنتنار ( د جنتنار سره بهر لاړ شئ ، د غېنټ او یو بل سره وپیژنئ او په دې ترځ کې خپل هالنډی تمرین کړئ) اضافي مالومات دلته<br>https://in-gent.be/samen-gentenaar . |
| مرسته | **IN- Gent**, vzw ,info@in-gent.be mailto:info@in-gent.be 09 265 78 40 |

Vertaling Nederlands-Pashtoe.
Dit is de vertaling Pashtoe van “Keuzewijzer voor Okan leerlingen” en bevat identiek dezelfde informatie als de Nederlandse tekst. Deze vertaling mag enkel verspreid worden met de originele brontekst “Keuzewijzer voor Okan leerlingen”.

| | |
|---|---|
| .Kongostraat 42, 9000 Gent | |

Vertaling Nederlands-Pashtoe.
Dit is de vertaling Pashtoe van “Keuzewijzer voor Okan leerlingen” en bevat identiek dezelfde informatie als de Nederlandse tekst. Deze vertaling mag enkel verspreid worden met de originele brontekst “Keuzewijzer voor Okan leerlingen”.

## ۶ . زه د خپل شخصی ودې لپاره څه شی کولای شم تعقیب کړم؟

| | |
|---|---|
| محتوا | - آیا تاسو د اوږدې مودې څخه ښوونځي ته نه یاستئ تللي او آیا علاقه لرئ چې د کار لپاره یا د CVO ( د بالغینو د زدکړې مرکز) کې د زدکړې د چمتو والي لپاره نورې زدکړې وکړئ یا موټر چلولو د نظري آزمینې د چمتو والي لپاره ځان چمتو کړئ؟ بیا تاسو کولای شئ د ابتدائیه زده کړو مرکز ( **CBE** ) په یوه مرکز کې زدکړې وکړئ https://www.ligo.be/<br>تاسو کولای شئ په دې برخو کې زدکړې وکړئ: حساب، ژبه ، تولنه، ICT ، د موټر چلولو نظری آزموینه...<br><br>- په **CVO** ( د بالغینو زده کړو مرکز ) https://data-onderwijs.vlaanderen.be/onderwijsaanbod/lijst?n=4&hz=true&hs=317+417&f=genthttps://data-onderwijs.vlaanderen.be/onderwijsaanbod/lijst?n=4&hz=true&hs=317+417&f=gent<br>تاسو کولای شئ : د **ICT**، په برخې کې زده کړې وکړئ، یوه بهرنۍ ژبه زده کړئ ( لکه فرانسوی، انګلیسی، پولنډي، هسپانوي، روسي، عربي، ترکي...) یو کورس تعقیب کړئ لکه د ګنډلو، لرګیو څخه شیان جوړول، پخلی، ...<br><br>- که تاسو غواړئ چې یو نوښتګر واوسئ او په هنری ډول ځان ته وده ورکړی ( لکه د انځورګری کورس، عکاسی، تیاتر، ویلون کورس، ...) نو تاسو کولای شئ د هنر په **یوه** اکاډیمی ( DKO ) Parttime Art Education ) کې درسونه واخئ https://www.academiegent.be/<br><br>- که تاسو غواړئ چې د سپورت لارښود ووسئ، سپورتي فعالیتونو وکړئ یا کمپونو کې لارښودني وکړئ بیا تاسو کولای شئ چې اضافي زدکړې د **د فلامس د روزونکو د ښوونځي له طریقه وکړئ**https://www.sport.vlaanderen/trainers-en-sportbegeleiders/opleiden-enbijscholen/opleidingen/<br><br>- که تاسو غواړئ چې یو لنډ روزنیز فعالیت تعقیب کړئ (د مثال په توګه د فکر کولو کورس، کیرامیک، د طبیعت قدم وهل، ...)، بیا تاسو کولای شئ چې د **تولنې - کلتوری** بالغینو کار ډېرو نوښتونو ته مراجعه وکړئ.<br>ډېر کورسونه ممکن دی، همدا ډول د **شخصي نوښتونو** پر بنسټ هم. |
| موده | - په کورس پورې اړه لری |
| په دې هکله | - شخصی پرمختګ |
| لګښت | - ځینې وختونه کورسونه وړیا وي (لکه په CBE کې). د ډیرو کورسونو لپاره تاسو د نوم لیکنې فیس ورکوئ. ځینې وختونه تخفیف ممکن دی. |
| د شاملیدلو شرایط | - له ۱۸ کلنۍ څخه<br>- په نیمه وخته هنري زده کړه کې او CVO کې تاسو اکثراً کولای شئ مخکې یوځای شئ. |
| ډیپلوم | ته یې ترلاسه کوی<br>- شهادتنامه، تصدیق، یو قسمي تصدیق، د ګډون تصدیق، ... |
| اضافی مالومات | - د ستپ - لېروینکل فلاندرن شرقي:<br>https://www.destapgent.be/vol/persoonlijke-ontplooiing.php |
| مرسته | **د ستپ - لېروینکل فلاندرن شرقي**, info@destapgent.be<br>, 09 233 75 15, in de bibliotheek De Krook, 2de verdieping, Miriam Makebaplein 1, 9000 GENT. |

Vertaling Nederlands-Pashtoe.
Dit is de vertaling Pashtoe van “Keuzewijzer voor Okan leerlingen” en bevat identiek dezelfde informatie als de Nederlandse tekst. Deze vertaling mag enkel verspreid worden met de originele brontekst “Keuzewijzer voor Okan leerlingen”.

۷. ګټور مالومات

- د **تجربې د** ترلاسه کولو او د مرستې لپاره **داوطلبی کول**
**کاری امکانات: داوطلبانه کار**
https://eportfolio.vrijwilligerspunt.stad.gent/home
- د **رخصتی** دندې یا د **محصلینو لپاره دندې** ترڅو یو څه اضافي پیسې وګټې
https://stad.gent/nl/student-gent/werken-tijdens-je-studies/jobstudenten

- Onderwijzerkezer.be په برخې کې وړیا وسیلې شتون لری چې تاسو سره د زدکړې یا کاری د انتخاب په برخې کې مرسته کوي
https://www.onderwijskiezer.be/v2/index.php
یا په VDAB.be https://www.vdab.be/
او
https://www.vdab.be/welke-job-past-bij-me

- **د زده کوونکو د دندو په اړه مالومات، دموټر چلولو لیسنس په اړه او نور موضوع ګاني** د تنکي ځوانانو له طریقه www.watwat.be

**لېدل کتنه، موسیقی، سپورت او تفریح فعالیتونه ستاسو** په اوزګارتیا وختونو کې دلته موندلای شئ
https://participatiemarkt.in-gent.be/ : / / participatiemarkt.in-gent.be

Vertaling Nederlands-Pashtoe.
Dit is de vertaling Pashtoe van “Keuzewijzer voor Okan leerlingen” en bevat identiek dezelfde informatie als de Nederlandse tekst. Deze vertaling mag enkel verspreid worden met de originele brontekst “Keuzewijzer voor Okan leerlingen”.

٨. د ثانوي زده کړو په برخه کې د بالغینو ثانوي زده کړو له لارې ډیپلوم ( CVO ) لاسته راوړل.

| | |
|---|---|
| محتوا | - تاسو ثانوي زده کړې د بالغینو د زده کړې په مرکز (CVO) کې تعقیب کوئ.<br>- درسونه په مضمونونو په چوکاټ کښې تنظیم شوی دي.<br>- تاسو د ورځې په جریان کې، ماښام یا د اوونی په پای کې درس تقیبوئ. ځینې وختونه تاسو کولای شئ چې د رسونه د ځاني زدکړو سره یوځای تنظیم کړئ.<br><br>- دوه پروګرامونه شتون لري:<br>١) **ASO** – تاسو ته یوازې عمومي نظري مضمونونه تدریس کیږي.<br><br>٢) د مسلکي زده کړه ( عملی مضامین چې تاسو ته په کښې یو مسلک زده کیږي) + یو عمومي تکمیلي زدکړې ( AAV ) ( عمومی نظری مضامین لکه هالنډي، ریاضیات ، او داسې نور ).<br>- تاسو مجبور نه یاست چې دواړه کورسونه په یو وخت کې تعقیب کړئ.<br>- تاسو مجبور نه یاست چې په دوهو CVO کې تعقیب کړئ.<br><br>- تاسو کولای شئ چې د ډیپلوم معیاره / مسلک معیاره زده کړو د یو اوږد لیست څخه انتخاب وکړئ<br>https://www.onderwijskiezer.be/v2/volwassen/volw_secundair_studiegebieden2.php |
| موده | - ستاسو په شخصي پروګرام پورې اړه لري.<br>که تاسو د ورځې په جریان کې په بشپړ وخت تحصیل وکړئ، پرته له "معافیت"، کولای شئ ۲ کاله په نظر کې ونیسئ. ۱ یا ۱،۵ (یو یا یو نیم) کلن پروګرامونه شتون لري |
| په دې هکله | - لوړو زده کړو یا کار ته چمتووالای |
| لګښت | - د **AAV** او **ASO** د نوم لیکنې فیس شتون نه لري<br>- د کورس د موادو لګښتونه<br>- د زده کړې لپاره د نوم لیکنې فیس‌د مسلکي زدکړې په برخې کې‌د زدکړې په برخې کې<br>- ځینې وختونه تاسو یا تخفیف ترلاسه کولای شئ یا پیسې نه ورکوئ. د شرطونو په کله مالومات وغواړئ.<br>- ستاسو د ماشومانو د پیسو حق محفوظه پاتې کیږي **(www.groeipakket.be)** که تاسو لږ تر لږه په اونۍ کې ۱۷ ساعته درس تعقیب کړئ.<br>- د ثانوی زده کړو د ډیپلوم ترلاسه کولو وروسته، تاسو کولای شئ د فلامس حکومت څخه د **حق الزحمې** غوښتنه وکړئ چې د هغې پیسو په مرسته د نوم لیکنې فیس بېرته ورکوئ. |
| د شاملیدلو شرایط | - په ASO او AAV کې له ۱۸ کلنی څخه یا دا چې د تعلیمي کال ۳۱ د دسمبر څخه مخکې ۱۸ کلن شئ<br>- تاسو په کافی اندازه هالنډی پوهیږئ چې ترڅو وشئ کولای چې درسونه تعقیب کړئ. تاسو کولای شئ چې دا موضوع د ژبې په آزموینې کې ثابته کړئ.<br>- تاسو په بلجیم کې د بلجیم تابعیت یا قانونی استوګنې اجازه لرئ.<br>- تاسو په یو **مالوماتي غونډې** کې برخه اخلئ یا یوې **لمړی مرکې** کې برخه اخلئ. تاسو ته به دا فرصت درکړل شي چې د معافیت په آزموینې کې برخه واخلئ. |
| ډیپلوم | تاسو ترلاسه کړئ:<br>- یو قسمی تصدیق هغه مهال لاسته راوړئ کله چې په یو مضمون کې بریالي شئ<br>- د ثانوی زده کړو ډیپلوم هغه مهال لاسته راوړئ کله چې تاسو د ASO په ټولو مضمونونو کې بریالي شئ<br>- هغه تصدیقونه چې تاسو یې په AAV او د مسلکي زده کړې له طریقه لاسته راوړئ په ګډه د ثانوی زدکړو ډیپلوم وړوي. |
| اضافی مالومات | تاسو کولای شئ د دې زدکړې لپاره **د ټولنیز پیوستون** پلوس کلاس له لارې ځان **چمتو کړئ**<br>(اوکان وروسته له اوکان ) . په اوکان کې د خپل د روزونکی لارښود څخه اضافي مالومات تقاضا وکړئ.<br><br>د **شرقي- فلاندرس** په اړه د اضافي معلوماتو لپاره: دا پوښتنه وګورئ چې زه څنګه کولای شم د بالغینو د زده کړې له لارې د ثانوی زده کړو ډیپلوم ترلاسه کړم، د سټپ- لیروینکل شرقي فلاندرس په ویب پاڼې کې وګورئ:<br>5=https://www.destapgent.be/faq/faq_list.php?categorieid<br><br>https://www.destapgent.be/files/kcfinder/files/2019-2020/1911DiplomagerichteTrajectenSchema.pdf<br><br>تاسو به د ثانوی زده کړو د ډیپلوم د ترلاسه کولو ټول امکانات په دې برخه کې موندلی شئ:<br>https://www.onderwijskiezer.be/v2/volwassen/volw_gndiploma.php<br><br>د ثانوی زده کړو دیپلوم به ولې په زړه پورې وي؟<br>د SO ډیپلوم:<br>- ستاسو لیاقتټاکي<br>- د ثانوی زده کړو هر یو ډیپلوم لکه ASO ، KSO BSO او TSO ټول تاسو ته **د لوړو زده کړو** ته د **لاسرسی حق درکوی**<br>- تاسو سره د یو **کار د موندلو** په برخې کې مرسته کوي<br>- کیدای شی ستاسو د **ارتقاع د امکاناتو** او **معاش** په برخې کې اغیزه وکړی<br>- تاسو ته په **دولت** کې د C په سویه جذب کولو ته لاسرسی درکوی. |

Vertaling Nederlands-Pashtoe.
Dit is de vertaling Pashtoe van “Keuzewijzer voor Okan leerlingen” en bevat identiek dezelfde informatie als de Nederlandse tekst. Deze vertaling mag enkel verspreid worden met de originele brontekst “Keuzewijzer voor Okan leerlingen”.

| | |
|---|---|
| | سربیره پر دې، دا موضوع ستاسو د ځاني پرمختګ په لارې کې ښه دی. |
| مرسته | - د ستپ - لېروینکل فلاندرن شرقي www.destapgent.be<br><br>- آیا تاسو د **۱۷ او ۲۵** کلونو تر منځ یاستئ؟ آیا تاسو په **ګنټ** کې **ژوند** کوئ یا **زده کړه** کوئ یا کار کوئ؟<br>د تحصیل او د پرمختګ او یا د ثانوی زدکړو د ډیپلوم د تر لاس کولو په برخې کې د انتخاب کولو د لار ښودنې لپاره د د ورد وایزسره **اړیکې**ونیسئ. وړیا او په خپله خوښه.<br>**Word Wijs**, Kleine Raamhof 8, 9000 Gent wordwijs@destapgent.be of 0494 93 45 65, 0494 93 45 65 of 0485 44 67 03 |

Vertaling Nederlands-Pashtoe.
Dit is de vertaling Pashtoe van “Keuzewijzer voor Okan leerlingen” en bevat identiek dezelfde informatie als de Nederlandse tekst. Deze vertaling mag enkel verspreid worden met de originele brontekst “Keuzewijzer voor Okan leerlingen”.

## ۹. د ثانوی زده کړو ډیپلوم د ثانوي زدکړو د آزمویني د کمیسیون له لارې.

| | |
|---|---|
| محتوا | - تاسو په صنف کې درس نه تعقیب کوئ مګر باید په **خپلواکه** توګه زده کړه وکړئ.<br>- تاسو په **خپله کتابونه** او ګټور معلومات راټولوئ.<br>- تاسو په **بروګسل کې** امتحانونه ورکوئ.<br>- امتحانونه د ټول کال په اوږدو کې تنظیم **کیږي.**<br>- امکانات محدود دی او امتحانونه په عمومي ډول په کتبي توګه دي.<br>- تاسو خپله خپل امتحانونه د مووده نېټو له مخې تنظیم کوئ.<br>- په دریمه درجه د BSO کې تاسو خپل عملي وړتیاوې هم ثابتوئ.<br>- که تاسو غواړئ چې ګډون وکړئ، نو تاسو لمړی **اجباري** (آنلاین) **مالوماتي غونډه** چېرته چې تاسو د کاري طریقې په هکله هر څه زده کوئ. |
| موده | - ستاسو په شخصي پروګرام پورې اړه لري. |
| په دې هکله | - د ثانوی زده کړو شهادتنامه یا ډیپلوم ترلاسه کول |
| لګښت | - د هر کورس لپاره ۳۳ یورو لګښت<br>- تاسو کولای شئ په خپله د زدکړې مواد (لاربنود...) په پیسو واخلئ. |
| د شاملیدلو شرایط | - ستا عمر یا مخکیني زده کړې مهمي نه دي.<br><br>- د نوم لیکنې لپاره تاسو د هوئت کارت ته ( یا یو بل رسمی پېژندپاڼې ) ته اړتیا لرئ. |
| ډیپلوم | تاسو ترلاسه کړئ:<br>- د ۱ لمړی درجې ثانوی زدکړو شهادتنامه یا<br>- د ۲ دویمې درجې ثانوی شهادتنامه‌په سند (ASO , BSO, KSO یا TSO)<br>- د ثانوی زده کړو ډیپلوم (په ASO، BSO، KSO یا TSO) کې. |
| اضافی مالومات | د آزمویني کمیسیون:<br>/https://examencommissiesecundaironderwijs.be<br><br>https://www.onderwijskiezer.be/v2/secundair/sec_examencommissie.php |
| مرسته | - آیا ستاسو عمر د **۱۷ او ۲۵** کلونو تر منځ دی؟ آیا تاسو په **ګنټ** کې **ژوند** کوئ یا **زده کړه** کوئ یا کار کوئ؟<br>د تحصیل او د پرمختګ او یا د ثانوی زدکړو د ډیپلوم د تر لاس کولو په برخې کې د انتخاب کولو د لار ښودنې لپاره د **ورد وایز** ( Word Wijs) سره اړیکې ونیسئ. وړیا او په خپله خوښه.<br>**Word Wijs**, Kleine Raamhof 8, 9000 Gent wordwijs@destapgent.be of 0494 93 45 65, 0494 93 45 65 of 0485 44 67 03<br>- لېر وینکل په فلاندرز کې<br>https://onderwijs.vlaanderen.be/nl/leerwinkels |

Vertaling Nederlands-Pashtoe.
Dit is de vertaling Pashtoe van “Keuzewijzer voor Okan leerlingen” en bevat identiek dezelfde informatie als de Nederlandse tekst. Deze vertaling mag enkel verspreid worden met de originele brontekst “Keuzewijzer voor Okan leerlingen”.

## ۱۰. لوړې زده کړې: لوړې زدکړې

| | |
|---|---|
| محتوا | - لوړې زدکړې د ثانوی زده کړو او مسلکي لسانس زدکړو تر منځ موقعیت لري.<br><br>- تاسو ډیر عملي چارې ښودل کیږي (ستاسو د زده کړې د درې برخو یوه برخه عملي ده).<br><br>- تاسو په ښوونځی کې په خپلواکه توګه د کار په ځنګ کې درسونه تعقیب کوئ.<br><br>- دا روزنه د ورځې، د شپې یا د اوونۍ د پای زده کړې په چوکاټ کی تنظیم کیدای شي.<br><br>- تاسو کولای شئ چې په لاندنیو زدکړو برخو کې د لوړو مسلکي زدکړو ډیپلوم لاسته راوړئ:<br>https://www.onderwijskiezer.be/v2/hoger/hoger_graduaatsopleidingen.php |
| موده | - روزنې د ۹۰ څخه تر ۱۲۰ کریډیټه لري.<br>- که چیرې تاسو د ورځې په جریان کې درس تعقیب کړي بیا به شاوخوا ۲ کاله وخت ونیسي.<br>- که تاسو د شپې لخوا درس تقیب کړئ بیا اکثراً ۳ کاله وخت نیسي. |
| په دې هکله | **-** په روزنو کې تاسو د یو مسلک د مخته بیولو لپاره چمتو کیږي یا دې ته چمتو کیږئ چې خپل مسلکي لیسانس تحص**یل ته ادامه ورکړئ.** |
| لګښت | - کله چې تاسو د لوړو زدکړو په ښوونځي کې نوم لیکنه کوئ، بیا لازم ده چې د نوم لیکنې **فیس ورکوئ.** د زدکړې فیس د دوهو برخو جوړیږي، یوه برخه یې ثابته ده + یوه بله برخه یې د هر اخیستل شوي کریډیټ په اساس ده.<br><br>- که چیرې ستاسو دعاید کچه ټیټه وی، بیا به د ځینو شرایطو په نظر کې نیولو سره تاسو ددې مستحق شئ**چې د زدکړې په برخې کې مالي مرستې لاسته راوړئ.** تاسو به د سکالرشیپ یا نږدې سکالرشیپ زده کوونکی یاستئ.<br>په دې اړه اضافي مالومات https://studietoelagen.be/<br><br>د خپل د شخصی حالت د زدکړې په برخې کې د مالي مرستو د لاسته راوړلو لپاره اضافي مالومات خپل کولو په موخه د محصلینو د چارې اداري سره اړیکې ونسیئ: https://centenvoorstudenten.be/partners/ |
| د شاملیدلو شرایط | - تاسو **د ثانوی زده کړو په برخه کې ډیپلوم** یا **د ثانوی زده کړو د ۶ کالو شهادتنامه لرئ** (دا شهادتنامه له ۳ کاله مخکې ده).<br>- که چیرې تاسو ډیپلوم یا شهادتنامه نه لرئ بیا څه کیږي؟ تاسوکولای**شئ چې د شاملیدلو یو امتحان** ورکړئ.<br>دا آزموینه ډیر تر ډیره ۱۰۰ دقیقو پورې دوام کوی او د ۴ برخو څخه جوړ شوې ده:<br>د لغاتو زېرمه،<br>- د لوستلو او پوهیدلو،<br>- حساب ( د حساب ماشین په مرسته)،<br>- په عددی توګه استدلال (د حساب ماشین په مرسته).<br>د کامیابی معیار دا ده چې په مجموع کې باید ۵۰ فیصده پوره کړئ. |
| ډیپلوم | تاسو ترلاسه کړئ:<br>- د لوړو ډیپلوم ('اسوسیټد ډیګري').<br>- د اړتیا په وخت کې تاسو کولای شئ چې د ثانوی زده کړو ډیپلوم هم لاسته راوړئ. د دې کار لپاره تاسو اضافي عمومي زدکړې (AAV) په CVO کې تعقیب کوئ، د بشپړ مالومات لپاره د بالغینو ثانوي زده کړې په هکله مالومات په ۹ صفحې کې ولولئ. |
| اضافی مالومات | د لوړو مسلکي زدکړویه هکله مالوماتپه فلاندرس کې کولای شئ د دزدکړې لاربنود له طریقه پیدا کړئ<br>https://www.onderwijskiezer.be/v2/hoger/hoger_graduaatsopleidingen.php<br>په شرقي فلاندرز کې د لوړو زدکړو شمېر کولای شئ چې په ۳ د لوړو زدکړو په ښوونځیو د ویب پاڼې له طریقه پیدا کړئ.<br>**د آرټویلډ د لوړو زدکړو ښوونځی**<br>**د ګنټ د لوړو زدکړو ښوونځی**<br>**اودیسی** |
| مرسته | د ستپ - لېروینکل فلاندرن شرقيinfo@destapgent.be<br>09 233 75 15, in de bibliotheek De Krook, 2de verdieping, Miriam Makebaplein 1, 9000 GENT<br>IN-Gent vzw , Kongostraat 42, 9000 Gent, 092657840 /website<br>https://www.in-gent.be/voor-jou/onderwijs/zoek-je-een-school/voor-jezelf |

## ۱۱. لوړې زده کړې: د 5HBO نرسری.

| | |
|---|---|
| محتوا | - تاسو **ډیر عملي کار** کوئ.<br>- تاسو به هغه **نظري** زده کړې خپلې کړئ کوکچې د **کار** د سر ته رسولو لپاره تاسو ته اړین دي.<br>- دا لوړې زدکړې د **ثانوي** زده کړو او **مسلکي لسانس** زدکړو تر **منځ** موقعیت لري.<br>- تاسو (معمولاً) د ورځې په جریان کې درس تعقیب کوئ. که چېرې تاسو کار کوئ، بیا کولای شئ چې خپل پروګرام ته تغییر ورکړئ.<br>- دا **لوړې زدکړې** دي مګر تاسو دا زدکړې په یو **ټول وخته ثانوي** ښوونځي کې سر ته رس. ښوونځی د دې هدف لپاره د لوړو زدکړو ښوونځي سره همکاري کوي.<br>**-** د نرسینګ **مسلکی لیسانس زدکړو (PBa)** سره یې **توپیر** څه دي (۱۵ صفحه وګورئ)؟<br>**5HBO نرسینګ**: د ماډل پروګرام **3 کاله دوام کوي.** تاسو دا زدکړې په یو ثانوي ښوونځی کې تعقیب کوئ.<br>د **نرسینګ** PBa زدکړو پروګرام د ۲۴۰ کریډټ لري چې زدکړې موده یې **۴ کاله** دی. تاسو دا زدکړې په **لوړ مسلکي ښوونځي** کې تعقیب کوئ.<br>تاسو د **5HBO** نرسینګ لپاره **د نوم لیکنې فیس نه** ورکوئ<br>د 5HBO زدکړو پروګرام ډیر زیات عملی او د زده کوونکی سره **برابر** دی. |
| موده | - ۳ کاله د ۵ زدکړې برخو (ماډل) څخه جوړه شوې ده<br>- تاسو کولای شئ د سپټمبر په ۱ او د فبرورۍ په ۱ کې پیل وکړئ. |
| په دې هکله | - د **نرس** مسلک (وروسته له ابتدائي برخې د پای څخه تاسو ته یو موقف درکول کېږېد روغتیا چارو کارپو))<br>- نظر په دې چې تاسو په کومې اداري کې کار کوئ تاسو کولای شئ چې هغه کار وکړې چې ستاسو یو بل همکار چې لیسانس زدکړې کړي دي سر ته یې رسوي. مګر ځینې تخصصي دندې دي یا داسې دندې دي چې رهبري کونکي موقف لري، هغه یواځې هغه مهال سر ته رسوي چې لیسانس زدکړې مو بشپړه کړي وي.<br>- ممکن ده چې تاسو د تکمیلیدلو یو پروګرام د لوړو زدکړو په ښوونځي کې سر تر ورسوئ او د لیسانس ډیپلوم لاسته راوړئ. |
| لګښت | - د **نوم لیکنې فیس نه** لری<br>- د کورس فیس لري نور لګښتونه لکه د زدکړې کتابونه، د روغتون د یونیفورم اخیستل/کرایه کول، او داسې نور. |
| د شاملیدلو شرایط | **-** د **ثانوی** زده کړو **ډیپلوم**<br>- یا **BSO** ۳ درجه شهادتنامه ( ستاسو عمر باید د ۱۸ کالو څخه ټېټ ووسي)<br>- یا د **بالغینو د ثانوی** زده کړو تصدیق( لږ تر لږه ۹۰۰ تدریسي ساعتونه)<br><br>- آیا تاسو ثانوی زده کړې پای ته رسولي نه وه؟ که چېرې ستاسو عمر د ۱۸ څخه لوړ واوسي بیا هم تاسو کولای شئ چې وروسته د شاملیدلو له آزموینې څخه، چې د ثانوي ښوونځیو لخوا تنظیم کېږي، زدکړې پیل کړئ. ښوونځی ستاسو څخه د هالنډي او حساب امتحان اخلي. کیدای شې چې اړین وي چې تاسو د خپلې انګېزې د روښانه کولو لپاره یو متن ولیکئ. |
| ډیپلوم | - تاسو د نرسینګ د **لوړو زدکړو** ډیپلوم ترلاسه کوئ.<br><br>- آیا تاسو دویم درجی ثانوی (SO4) تصدیق لرئ؟ کله چې تاسو د نرسینګ په 5HBO زدکړو کې بریالي شوئ، بیا تاسو ته په اتومات ډول د ثانوی زده کړو ډیپلوم درکول کېږي.<br><br>-ایا تاسو د BSO 6 شهادتنامه لرئ چې د اضافی عمومی زده کړو ( AAV ) تصدیق ورسره ووسي او د څلورو کالو زوړ ووسي او د CVO لخوا تر لاسه شوی وي (د AAV په اړه مالومات په ۱۱ صفحې کې وګورئ)؟ تاسو وروسته له دوهو ابتدائیه مادوله څخه د ثانوي ښوونځي ډیپلوم لاسته راوړي (وروسته له ۱ کال 5Hbo).<br>https://www.onderwijskiezer.be/v2/volwassen/volw_gndiploma_plus18.php?age=2&var=verpleegkunde<br><br>- د خپل د هیواد د زده کړې اسناد وګورئ. کیدای شی تاسو دا اسناد وکاروئ.<br>آیا تاسو په فلانډرز کې ثانوی زدکړې کړي دي؟ راپوروونه ځان سره چمتو وساتی.<br>تاسو کولای شئ د امتحان د کمسیون له لارې د SO (4SO) د دویمې سویې شهادتنامه هم ترلاسه کړئ (د نور مالومات لپاره ۱۲ صفحې ته مراجعه وکړئ). |
| اضافی مالومات | تاسو کولای شئ د دې زدکړې لپاره **د ټولنیز پیوستون** پلوس کلاس له لارې ځان **چمتو کړئ**<br>(اوکان وروسته له اوکان ) . په اوکان کې د خپل د روزونکی لارښود څخه اضافي مالومات تقاضا وکړئ. |

| | |
|---|---|
| تاسوکولای **شئ چې د** ټولنیزو ګټو **مخکني زدکړو په مرسته خپل ځان د هغه زدکړو لپاره** چمتو کړئ کوم چې د غیر هالینډي ژبو لپاره د **VDAB** وړاندې کیږي (د VDAB په اړه مالومات په ۷ صفحې کې موندلای شئ): ویب پاڼه https://www.vdab.be/opleidingen/aanbod/904306/Vooropleiding_social_profit_voor_anderstaligen<br><br>نرسینګ د هغو دندو څخه ده چې ډیر اړتیا ورته شتون لري. تاسو کولای شئ چې د VDAB له طریقه د نرسرۍ په برخه کې خپل 5HBO ډیپلوم ترلاسه کړئhttps://www.vdab.be/zorg<br>ستاسو د زده کړې د موادو پیسې VDAB ورکوی. ځینې وختونه تاسو ته ستاسو د لګښت مصرف هم درکول کیږي، د مثال په توګه د ستاسو ټرانسپورټ لګښت ټولګی ته. تاسو خپل ځان **د کار غوښتونکی** په توګه ثبت کړئ.<br><br>د 5HBO نرسینګ په هکله مالومات:<br>https://www.onderwijskiezer.be/v2/hoger/hoger_hbo_detail.php?richting=70 | |
| - **دستپ-لېروینکل شرقي فلاندرن**, info@destapgent.be<br>09 233 75 15, in de bibliotheek De Krook, 2de verdieping, Miriam Makebaplein 1, 9000 GENT<br>www.destapgent.be<br><br>- Ghent 9000 , Kongostraat 42 , IN - Gent vzw , 092657840 /website<br>https://www.in-gent.be/voor-jou/onderwijs/zoek-je-een-school/voor-jezelf | مرسته |

## ۱۲. لوړې زده کړې: لیسانس

| | |
|---|---|
| محتوا | - تاسو کولای شئ د **مسلکي لیسانس** ( PBa ) یا د یو ع**لمي لیسانس** ( ABa ) تر منځ انتخاب وکړئ.<br><br>- تاسو کولای شئ چي مسلکي لیسانس (PBa) د لوړو زدکړو د ښوونځي له طریقه تعقیب کړئ. محتوای یی داسي ده: پراخه عمومی زده کړه، مسلکی ځانګړی پوهه، ستاژ/ د کار ځای زده کړه.<br><br>**علمي لسانس (** ABa) او بیا وروسته له هغي ماسټری ( Ma) په **پوهنتون / د هنر په ښوونځي** کي.<br>دوی په پراخه علمی ( نظري ) زده کړه چي بنسټ یي علمی او<br>څېړنیز وي یا په هنر کي د روزني په اړه وي، ټېنګار کوي. |
| موده | -۱۸۰ کریډیټ، ماډل پروګرام: د پوره وخت موده ۳ کاله<br>-استثناء : نرسینګ : ۲۴۰ کریډیټ = ماډل پروګرام ۴ کاله پوره وخت زدکړه |
| په دې هکله | **- PBa**په مستقیمه توګه **لندې سر ته رسول**. تاسو کولای شئ چي سمدستی د کار بازار ته لاړ شئ یا د یو منځني پروګرام له لارې د ماسټرۍ پروګرام مخته بوځئ.<br>**-ABa** موخه دا ده :<br>-د ماسټر لپاره چمتو والی<br>- علمی څېړنه / زده کړه په هنرونو کې، |
| لګښت | - د نوم لیکني په مهال لوپه پوړو زدکړو ښوونځي کي یا پوهنتون تاسو د نوم لیکني **فیس ورکوئ.**<br>- که چېرې ستاسو دعاید کچه ټېټه وی، بیا به د ځینو شرایطو په نظر کي نیولو سره تاسو ددې مستحق ګڼل کېږئ چي د زدکړې په برخي کي مالي مرستي لاسته راوړئ. تاسو به د سکالرشیپ یا نړدې سکالرشیپ زده کوونکی یاستئ.<br>په دې اړه اضافي مالومات https://studietoelagen.be/<br>د خپل شخصی حالت په هکله د اضافي مالومات خپل کولو په موخه د محصلینو د چارې اداري (STUVO) سره اړیکي ونسیئ: https://centenvoorstudenten.be/partners/ |
| د شامليدلو شرايط | - کله چي تاسو د ثانوي ښوونځي ډیپلوم ولرئ بیا کولای شئ چي زدکړې پیل کړئ ( ۱۱ - ۱۲ صفحي وګورئ). که چېرې تاسو دا نه لرئ، بیا تاسو کولای شئ د شاملېدو په آزموینه کي هم برخه واخلي (د ۲۱ کلني څخه).<br><br>- ایا تاسو د خپل هېواد د ثانوی زدکړو دیپلوم **لرئ؟** آیا دا تاسو ته دا حق درکوی چي په خپل هېواد کي په پوهنتون کي زدکړې پیل کړئ؟ بیا تاسو کولای شئ چي په فلاندرز کي هم د شاملېدو د کړنلارې په اساس اقدام وکړئ. تاسو د خپل د **دیپلوم رسمي پیژندل** شوي نقل یا یو **اپوستیل** ته **اړتیا** لرئ. نور معلومات دلته:<br>https://www.ugent.be/nl/opleidingen/bacheloropleidingen/toelating/diploma.htm<br><br>- تاسو کولای شئ په لوړو زده کړو کي هم دلوړ مسلکي ښوونځي سره زدکړې پیل کړئ (د اضافي مالومات لپاره ۱۳ او ۱۴ صفحه وګورئ)<br><br>-په طب او د غاښنو طب کي یو اجباری قطعي د کانکور امتحان اخیستل کېږي.<br><br>-د هنرونو په ښوونځي کي اجباري قطعی هنری مشورې د شاملېدلو په برخي کي شتون لري.<br><br>- هلته **د شاملیدلو جبري** مخکي له شاملېدلو څخه **د انجینیری** علمي**وترینري، معماري، روزنه**د زدکړې رشتې.... دا د دې لپاره ده چي ولیدل شي چي آیا تاسو د ثانوی زده کړو په برخي کي په کافي اندازه لرئ او آیا په هغه کچه چي ستاسو څخه انتظار کېږي یاستئ او که نه. دا آزمویني **ضروری دی،** مګر **قاطع نه** دی. که تاسو بریالی نه شئ، تاسو پیل کولای شئ، مګر تاسو په دې پوهېږئ چي دا به ستاسو لپاره سخت وی.<br><br>- د لوړو زده کړو تقریباً ټول پروګرامونه په هالندي ژبي دي.<br>که چېرې تاسو د ثانوی زده کړو وروستنی کال بشپړ کړای نه وي، بیا تاسو مکلف یاستئ چي لږ تر لږه د هالندي ژبي تصدیق د **2B** په کچه ولرئ او یا د د کانکور په امتحان کي باید کامیابه شئ (غاښونو ) ډاکټر.<br><br>-حتی که تاسو غواړئ چي په انګلیسی ژبه زده کړه **وکړئ**، باید د خپل د انګلیسي ژبي پوهه ثابته کړئ. تاسو باید لږ تر لږه د **2B** سند ولرئ یا لږ تر لږه د یو کال لپاره د انګلیسی ژبي کورس په بریالیتوب سره تعقیب کړي وي.<br>پخپله په اداري کي د انګلیسی ژبي د هغه کچي په هکله چي ستاسو څخه هیله کېږي مالومات وکړئ**!** |
| ډیپلوم | - د **مسلکی لیسانس دیپلوم (** هدف د کار بازار )<br>- یا د **علمی لیسانس دیپلوم (** چي موخه یي د ماسټرۍ پروګرام دی ) |
| اضافی مالومات | جوړښت HO<br>https://www.onderwijskiezer.be/v2/hoger/hoger_structuur.php<br><br>تاسو کولای شئ چي د ثانوی زده کړو لپاره د تیاری کال تعقیب کړي تر څو د لوړو زده کړو لپاره تیاری ولرئ.<br>https://www.onderwijskiezer.be/v2/secundair/sec_3graad_vj.php<br><br>دلوړو زده کړو لپاره د چمتووالی لپاره یو بل فرصت د هغه کسانو لپاره چي مورنی ژبه یي هالندي نه ده، د لوړو زده کړو مقدماتی پروګرام دی.<br>https://in-gent.be/voor-jou/onderwijs/voortraject-hoger-onderwijs |
| مرسته | - د محصلینو د چارو اداره:<br>د لوړو ژدکړو ښوونځي او پوهنتونونه<br>https://centenvoorstudenten.be/partners/<br><br>- دستپ-لېروینکل شرقي فلاندرن info@destapgent.be<br>09 233 75 15, in de bibliotheek De Krook, 2de verdieping, Miriam Makebaplein 1, 9000 GENT<br><br>www.destapgent.be<br><br>IN - Gent vzw , Kongostraat 42 , 9000 Ghent , 092657840 / website -<br>https://www.in-gent.be/voor-jou/onderwijs/zoek-je-een-school/voor-jezelf |

## کولافون

**د انتخاب لارښود د اوکان زده کوونکو لپاره د ۱۸ کلنو څخه**
د این-ګنټ اداره vzw د ستپ -ليروينکل شرقي- فلاندرن په همکارئ

پته:
**IN-Gent v.z.w.**
Kongostraat 42
9000 Gent

**T** 09 265 78 40
**E** info@in-gent.be
**W** www.in-gent.be

د پوښتني / ملاحظي لپاره
لودمیله فیسوتسکابا
د تنکی ځوانانو په زدکړې کې د اجازې ورکولو اداري کارکونکي
د انفرادي لارښودني څانګه
ludmila.vysotskaya@in-gent.be

جوړ شوي
د این-ګنټ **vzw**

خپرېدل
می ۲۰۲۱

د نشر مسؤل
استرید ده بروکر، د د این-ګنټ **vzw** رئيسه، **Kangostraat 42, 9000 Gent**